

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې

د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼـه: ۴۱ | مسلسل نمبر: ۱۳۱

چهارشنبه، شعبان المعظم ۲مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادي

## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه شوه



۲ صفحه

## د ښوونیزو زده کړو د خصوصي مرکزونو خدمات به معیاري او فیسونه به مناسب وټاکل شي



۲مه صفحه

## د افغانستان ریل پټلی؛ لېوالتیاوې او فرصتونه



۴مه صفحه



## سرلیکنه

په ۱۴۰۳ کال کې، د هېواد ناخالص کورنی تولید ۱۶ میلیارده ډالر او د سـړي سر عاید ۴۴۶،۵۶ ډالره و. داسې اټکل کیږي چې د ۱۴۰۴ کال اقتصادي ودې ته په پام به د هېواد ناخالص کورنی تولید او د سـړي سر عاید نور هم زیات شي. د ناخالص کورني تولید او سـړي سر عاید زیاتوالی د اقتصادي پرمختګ نښه ده. خـو دغه مهمه برخه هغه مهـال زیاتوالی مومي چـې د هېـواد ناخالص تولید بنسـټیز سـکټورونه پرمختګ وکړي. ددې برخې مهم سـکټورونه کرنه، صنعت او د خدماتو برخې دي. اسـلامي امارت چې کله د دویم ځل له پاره واک ته ورسېد، نو هممهاله د نړیوالـې ټولنې له لـوري پرې مـالي او اقتصادي بندیزونه ولګېدل، پـه څنګ کې یې د زېربنا په برخه کې د ډېـرى هغـو پراختیایـي پروژو چـارې هم وځنډیـدې چـې د بهرنیانو له لـوري تمویلېدې. په لومړیـو کې دغـو بندیزونو څه نا څـه منفي اغېزې درلـودې. افغانی ارزښـت ټیټ شـو، سـوداګرې کمزورې، د بیارغونې چارې ټکنی، بانکوالي سیستم له سـتونزو سره مخ او د نورو چارو ترسره کول یو څه سـتونزمن شـول. خو له دې ټولـو ناخوالو سره سره اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو سره یو لړ داسـې اقدام ترسره کړل، چې پرمټ یې پورته یاد سـکټورونه د پرمختګ مسـیر ته برابر کړل. همدا لامل و چې کال په کال د کورني ناخالص تولید کچه له منفي حالته مثبت او اوس مخ په لوړېـدو ده. د صادراتو په کچه کـې زیاتوالی، د کورنیـو تولیداتو ملاتړ، صنعتکارانو او سـوداګرو ته اسـانتیاوې، د امارتي شرکتونو او تصدیو فعالول، د کارموندنـې پر سـکټور تمرکز، د افغانـی ثبات، د اسـعارو د قاچاق مخنیـوی، د لومړنیـو توکو د بیو ټیټوالـی، د لویو لارو بیارغونه، د ریل پټلی شـبکو رغونه او غځول، د بریښـنا په برخه کې د مهمو پروژو عملي کول، د هېـواد د اوبو مدیریت، په هېواد کې د سـترو پروژو لکه ټاپي د عملي چـارو پیل او دې ته ورته نورو سـترو، منځنیو او کوچنیو پروژو د چارو پیل او ګټې اخیستنې ته سپارل او داسې نور هغه لاملونه دي چې د کورني ناخالـص تولید په لوړوالي کې یې مهم رول لرلـی دی. که چېرې اسـلامي امارت په همدې ډول خپلو اقداماتو ته دوام ورکړي، نو کال په کال به د کورني ناخالص تولید کچه لوړه، سړي سر عواید به زیات او په هېواد کې به اقتصادي پرمختګ تضمین شي. دا د اسـلامي امارت د هغه اقتصادي پالیسي برکت دی چې تر ډېره حده بریالی شوې ده که همداسـې دوام ومومي، نو له شـک پرته به یې نورې مثبتې پایلې هم را څرګندې شي. افغانستان به په اقتصـادي لحاظ پرمختګ وکړي او د وګړو به یې د نړۍ د نورو هېوادونو د خلکو په څیر سړي سر عواید لوړ او له امله به یې ارامه او سوکاله ژوند ولري.

## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه شوه

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتـي غونـــډه د روان ۱۴۰۴ لمریـــز کال د مرغومي میاشتې په ۲۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه



شـــوه. دې غونډې ته د هلمند ولایت د ښوراب ملکي هوایي ډګر او هلته د شته سرې خونې د بېرته فعالولو، د بـــار وړونکو وســـایطو د نوبت قانـــون د تطبیق، په صنعتـــي پارکونو کې د ځمکې د نرخونو د قســـطونو د وخت، د ولایتونو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو د کټه‌ګوریـــو ټاکلو او هېوادوالو ته د کاري فرصتونو د رامنځته کېـــدو په موخه هغـــو پانګوالو تـــه چې په افغانســـتان کې نوې پانګونه کوي د مالیاتي معافیت موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

له بحث وروسته د یادو موضوعاتو د هراړخیزې څېړنې لپاره کمېټې وټاکل شـــوې، څو خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د اقتصادي کمېسیون مجلس ته وړاندې کړي.

همـــداراز د غونډې پـــه پای کې د یوشـــمېر تعقیبي موضوعاتـــو راپورونه هم وړاندې شـــول. یاد راپورونه تایید او اړوندو ادارو ته یې د تطبیق سپارښتنه وشوه.

پورتـــه پرېکړې د نهایي تصمیم پـــه موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## د ښوونیزو زده کړو د خصوصي مرکزونو خدمات به معیاري او فیسونه به مناسب وټاکل شي



د اقتصادي کمېســـیون د تخنیکـــي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۲۲مـــه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شـــوه. دې غونډې تـــه د پوهنې وزارت اړوند د خصوصي زده کړو ریاســـت د عوایـــدو د لـــوړوالي او غوره مدیریت طرحه او د اړتیا وړ وســـایلو او تجهیزاتو د چمتو کولو پروپوزل د بحث لپاره وړاندې شول. له هراړخیز بحث وروســـته یـــاده طرحه او پروپوزل د تایید وړ وبلل شـــول او د نهایـــي تصمیم په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.

د دې طرحې او پروپوزل په تطبیق سره به د ښوونیزو زده کړو د خصوصي مرکزونـــو خدمات معیاري، زده کوونکو ته به مناســـب فیسونه وټاکل شي او همداراز به یې ستونزو ته په وخت رسېدنه وشي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ابادي

# اخبار اقتصادی هفته

## قراردادهای تولید ۹۴۰۷ میگاوات برق برای کاهش وابستگی به واردات


مسؤلان شرکت برشنا می‌گویند که به‌منظور افزایش تولید برق داخلی و کاهش وابستگی کشور به واردات برق، در سال جاری قراردادها و تفاهم‌نامه‌هایی به ظرفیت مجموعی ۹۴۰۷ میگاوات برق با شرکت‌های داخلی و خارجی به امضا رسانده



اند. به‌گفته‌ی این شرکت، این پروژه‌ها شامل تولید برق از منابع گوناگون، از جمله زغال‌سنگ، گاز طبیعی و انرژی حرارتی می‌باشد. شرکت برشنا، در این باره افزود: «کارهای مطالعات فنی این پروژه‌ها فعلاً آغاز شده و از جملهٔ آن، ۳۲۳ میگاوات برق از منابع زغال‌سنگ است که کارهای مطالعات فنی آن تکمیل شده و به‌زودی در سه نقطهٔ کشور آغاز می شود.» به‌گفته‌ی مسؤلان، قرارداد تولید ۱۰۰ میگاوات برق از گاز طبیعی به امضا رسیده و کارهای عملی آن عملا آغاز شده است. آگاهان اقتصادی باور دارند که اگر کار پروژه‌های قراردادشده هرچه زودتر آغاز و تکمیل شوند، می‌توانند نقش مهمی در تامین برق پایدار، رشد اقتصادی و ایجاد فرصت‌های کاری در کشور ایفا کنند. این در حالی است که پیش‌تر شرکت برشنا کار ساخت دستگاه تولید برق آفتابی با ظرفیت ۳۴ میگاوات، سب‌استیشن ۱۲۶ میگاولت‌امپیر و لین انتقال ۲۲۰ کیلوولت را در پارک صنعتی صنایع سبز، به هزینهٔ مجموعی نزدیک به ۴۰ میلیون دالر، در کابل آغاز کرده است.

## تاتارستان و افغانستان در آستانه‌ی گسترش همکاری‌های اقتصادی

به گزارش خبرگزاری "تاتار-اینفورم"، مرکز تجارتی روسیه در افغانستان اعلام کرده است که سال ۲۰۲۶ می‌تواند به سال گسترش پیوندهای تجارتی و اقتصادی میان جمهوری تاتارستان روسیه و افغانستان تبدیل شود. رستم حبیبولین، رییس این مرکز، از سفر هیاتی از جمهوری تاتارستان به کابل خبر داده و گفته است که رای‌زنی‌ها برای گشایش نمایندگی تجارتی تاتارستان در افغانستان ادامه دارد. به‌گفته‌ی او، پیش از این نیز مقام‌های امارت‌اسلامی‌افغانستان به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ، به شهر قازان سفر کرده‌اند. عبدالنصیر رشتیا، آگاه اقتصادی، در این باره افزود:



«روسیه یکی از کشورهایی بوده که بیشترین صادرات، به‌ویژه میوه‌های خشک و میوه‌ی تازه، چرم و دیگر اقلام را ما به آن صادر می‌کردیم و روابط خوبی هم با هم داشتیم و حال اگر بار دیگر زمینه مساعد شود که ما بتوانیم صادرات بیش‌تر را به روسیه و یا تاتارستان انجام بدهیم، می‌تواند به سود اقتصاد باشد.» رییس مرکز تجارتی روسیه در افغانستان همچنین افزود که "شورای سرمایه‌گذاری روسیه و افغانستان" در چارچوب فعالیت‌های این مرکز به‌هدف گسترش همکاری‌های اقتصادی و جذب سرمایه‌گذاری آغاز به‌کار کرده است. اتاق تجارت و سرمایه گذاری نیز گسترش پیوندها میان افغانستان و جمهوری تاتارستان را به سود اقتصاد کشور می‌داند. وزارت صنعت وتجارت نیز آمار می‌دهد که در جریان سال گذشته‌ی میلادی به ارزش ۵۳۸ میلیون دالر میان افغانستان و فدراتیف روسیه داد وستد تجارتی انجام شده است. این در حالی‌ست که به تاریخ ۱۴ اسد سال جاری خورشیدی نیز هیاتی از کشور تاتارستان روسیه به رهبری اولیگ کوروبچینکو، معاون نخست وزیر و وزیر تجارت تاتارستان در سفر به کابل با شماری از مقام های امارت‌اسلامی روی موضوع‌های گوناگون از جمله بهره گیری از فرصت‌های سرمایه‌گذاری در افغانستان، پروژه‌ی انتقال آب از دریای پنجشیر به کابل و سرمایه‌گذاری روی معدن‌ها گفت وگو کرد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

## افزایش پنج‌برابر واردات از مسیر راه‌آهن هرات-خواف

مسوولان محلی در هرات می‌گویند که انتقال کالاهای تجارتی از مسیر راه‌آهن هرات-خواف، پنج برابر افزایش یافته است. به گفته‌ی آنان، روزانه از دو تا پنج هزار تُن اموال تجارتی از کشورهای مختلف از این مسیر وارد کشور می‌شود. سمنت، آهن چادر، کاشی و دیزل از جمله بزرگ‌ترین اقلام وارداتی از مسیر راه‌آهن هرات-خواف گفته می‌شوند. این اموال تجارتی از کشورهای گوناگون از جمله ایران، ترکیه، چین و امارات متحده‌ی عربی وارد می‌شوند. مسؤلین ایستگاه روزنک راه‌آهن هرات-خواف گفت: «اکثر واردات شامل سمنت، آهن، کاشی سرامیک، کاغذ، شکر، روغن و تیل دیزل است.» اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می گوید که با گسترش فعالیت‌های تجارتی در ایستگاه روزنک راه‌آهن هرات-خواف، سهولت‌های خوبی برای واردکنندگان و تجاران فراهم شده است. اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات گفت: «در نظر است که ایستگاه روزنک توسعه پیدا کند. در کنار آن، مقام ولایت هرات نیز قصد دارد تا در آینده نزدیک، ایستگاه رباط پریان را افتتاح کند. این نشان‌دهنده‌ی آن است که انتقال اموال تجارتی از طریق راه‌آهن روزبه‌روز افزایش می‌یابد و تاجران نیز علاقه مندی خود را در این زمینه نشان داده‌اند.» با افزایش انتقال اموال تجارتی از مسیر این راه‌آهن، برای بیش از ۲۵۰ تن در ایستگاه روزنک زمینه‌ی کار فراهم شده است. این کارگران نقش کلیدی در تخلیه و بارگیری اموال تجارتی دارند. به گفته ی مسؤلان محلی در هرات، این مسیر افغانستان را به بازارهای جهانی پیوند داده است.

## توزیع بیش از ۸۵۰ جواز تجارتی و صنعتی در بلخ در سال روان

مسؤلان ریاست صنعت و تجارت ولایت بلخ می گویند که از آغاز سال روان تا اکنون، ۲۸۴ جواز تجارتی و صنعتی برای تجاران و صنعت‌کاران توزیع شده است. به گفته‌ی آنان، در این مدت بیش از ۵۷۰ شرکت و کارخانه، جواز فعالیت‌های خود را تمدید کرده‌اند. ریاست صنعت و تجارت بلخ گفت: «در سال روان، مجموعاً ۸۵۶ جواز تجارتی و صنعتی از سوی ریاست صنعت و تجارت توزیع شده است که از این میان، ۵۷۲ جواز تمدیدی و ۲۸۴ جواز جدید در بخش‌های تجارتی و صنعتی توزیع شده است.» از سوی دیگر، مسؤلان کارخانه‌ها در ولایت بلخ، فراهم‌سازی برق دایمی و توزیع زمین را از مهم ترین خواست‌های‌شان عنوان می کنند. افضل افضلی، مسوول یک کارخانه گفت: «اگر از سوی وزارت زراعت و معاونیت اقتصادی، برای فابریکه‌داران بزرگ زمین توزیع شود، برای صدها تن زمینه‌ی کار فراهم خواهد شد.» محمدیوسف غفوری، مسوول یکی دیگر از کارخانه‌ها گفت: «ما ظرفیت و امکانات داریم. اگر برق و زمین از سوی حکومت فراهم شود، می‌توانیم فابریکه‌های تولیدی بزرگ را در داخل کشور ایجاد کنیم.» در همین حال، کارگران این کارخانه‌ها با ابراز خرسندی از ایجاد چنین کارخانه‌هایی، از دیگر سرمایه‌گذاران نیز می‌خواهند که در کشور سرمایه‌گذاری کنند. از سوی دیگر، مسؤلان ریاست صنعت و تجارت ولایت بلخ از تلاش‌ها برای حل مشکلات صنعت‌کاران و تجاران خبر داده و بر ادامه‌ی این تلاش‌ها تأکید می‌کنند. بر پایه‌ی آمارهای ریاست صنعت و تجارت ولایت بلخ، پس از حاکمیت دوباره‌ی امارت اسلامی، ۳۰۰ کارخانه‌ی کوچک و بزرگ در این ولایت آغاز به فعالیت کرده‌اند که برای هزاران تن زمینه‌ی کار فراهم شده است.



## د افغانستان ریل پټلۍ؛ لېوالتیاوې او فرصتونه

نجیب الله

### سریزه

افغانستان اوس په وچه کې د ایسار هېواد پر ځای د سیمې د وصل په مرکز بدلېږي. که څه هم دا موقعیت نوی نه دی، خو وروستیو اشغالونو او جګړو دومره وځاپه چې نه یوازې د سوداګرۍ په برخه کې په یوه یا دوو هېوادونو متکي پاتې شو، بلکې د څو ګاونډیو هېوادونو د پلور په بازار بدل او د ګاونډیو هېوادونو ډېر ټیټ کیفیته توکي به پکې مصرفېدل. افغانستان په تېرو څو کلونو کې یوازې په ځمکنیو لارو اکتفاه کړې وه ځکه سمندر ته مستقیمه لاره نلري او هوايي ترانسپورت په لوړه بیه تمامېږي. افغانستان دا بالقوه ظرفیت درلود چې د ریل پټلۍ او واټ په وسیله له ګاونډیو هېوادونو او له هغې لارې د سیمې له هېوادونو سره ونښلي، خو په دې برخه کې یوازې د سړکونو په جوړولو بسنه شوې وه چې د وخت اړتیا ته په پام سره سړکونه او له لارې یې انتقالات کافي نه وو. د اسلامي امارت په واکمنېدو سره په هېواد کې بشپړه امنیت ټینګ او د هېواد اقتصادي پرمختګ ته لومړیتوب ورکړل شو. د دې له پاره چې له شته فرصتونو اعظمي او سمه استفاده وشي د لویو لارو او بندرونو رغولو او پراختیا ته او د سړکونو ترڅنګ بدیلو ترانسپورتي لارو( ریل پټلۍ او هوايي ترانسپورت) ته هم پاملرنه وشوه. د څو کلونو په تېرېدو سره




ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلــو په برخـه کــې

د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادی


افغانستان له ګڼو ګاونډیو هېوادونو سره فعاله ریل پټلۍ لري او غواړي دا لیکې له یو بل سره ونښلیږي، په دې سره به له یوې خوا هېواد ته د لېږد رالېږد چارې چټکې او ارزانه شي او له بلې خوا به د ســیمې لــه ترانزیټي ریـل پټلیو سره هم افغانســتان ونښـلول شي. په دې لیکنه کې د ریل پټلۍ د پراختیا په برخه کې وروستیو هڅو ته لنډه کتنه کوو:

## افغانستان کې د ریل پټلۍ ستراتیژیک اهمیت

افغانستان د ترانسپورټي اتصال او زیربنایي پروژو په برخه کې د خپل جغرافیایي موقعیت له امله ستراتیژیک اهمیت لري. د هېواد ریل پټلۍ کولای شي منځنۍ اســیا، جنوبي اسیا، منځنۍ ختیځ او له هغه وروسته اروپا سره ونښلوي. افغانستان اوس شــاوخوا ۴۰۰ کیلومتره فعالې ریل پټلۍ لري او له دې لارې افغانســتان د مرکــزي اســیا ازبکســتان، ( حیرتان-مزارشریــف ) ترکمنســتان( اقینــه – اندخــوی او تورغونډۍ-هــرات) او همدارنګــه لــه ایران هېــواد سره د (خواف-هرات) له لارې په مســتقیم ډول نښلول شوی دی. هغه ریل پټلۍ چې اوس په افغانستان کې فعالې دي دلته یې لنډه یادونه کوو:

**د حیرتان ریل پټلۍ:**

د حیرتان–مزارشریف ریل پټلۍ افغانستان له ازبیکستان سره نښلوي چې شاوخوا ۷۵ کیلومتره اوږدوالی لري. دا ریل پټلۍ په ۲۰۱۰_۲۰۱۱ کال کې د ازبیکستان له خوا جوړه شوې ده. دا د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې خورا ډېر ارزښــت لري او افغانستان له دې لارې د منځنۍ آسیا له نورو هېوادونو لکه قزاقستان او ان روسیې او چین سره نښلوي. غنم او اوړه، تېل، ساختماني مواد، صنعتي توکي او نور له دې لارې افغانستان ته راوړل کیږي.

**د آقینې ریل پټلۍ:**

افغانســتان د فاریاب ولایت د آقینې بندر د اوسپنې پټلۍ له لارې له ترکمنستان سره نښلول شوی او د دغه هېواد د ریل پټلۍ د شبکې له لارې افغانستان له نړیوالو سوداګریزو لارو سره نښــلي، دا نښلېدا د ترکمنســتان د ریل پټلۍ له لارې اسیایي هېوادونو او اروپا ته رسېږي. د آقینې – اندخوی بندر د دویم فاز د ۱۰ کیلومتره ریل پټلۍ رغنیزې چارې روانې دي. د ریل پټلۍ دا برخه د څه باندې ۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو پــه پانګه جوړېږي. د دغې ریل پټلــۍ لومړی پړاو چې له آقینې څخه تر اندخوی پــورې ۳۰ کیلومتره اوږدوالی لري؛ مخکې بشپړ شوی دی او همدارااز د اندخوی – جوزجان د ۵۵ کیلومتره ریل پټلۍ د سروې او ډیزاین چارې هم د یوه کورني شرکت لخوا د ترکمنستان هیواد سره په تفاهم بشپړې شوې دي. د آقینــې – آندخوی د ۱۰ کیلومتره ریل پټلۍ د جوړولو چارې د ترکمنســتان د ریل پټلۍ اداري تــر څارنې لاندې بشــپړېږي. د دې پروژې په بشــپړېدو سره بــه نه یوازې د اندخوی ښار صنعتي ښــارګوټي ته د سوداګریز توکو لیږدول اسان شي؛ بلکې د ملي سوداګرو لپاره به په انتقالاتو کې لا زیاتې اسانتیاوې برابرې او د ریل پټلۍ عواید به هم د پام وړ زیات شي. د رســمي بنســتونو د مالوماتو له مخې د بندري زیربناوو په برخه کې هم د تورغونډۍ بندر د پراختیا ترون د ۵ میلیونه ډالرو په ارزښت له ترکمنستان سره لاسلیک شوی.

**د تورغونډۍ ریل پټلۍ:**

د تورغونډۍ د اوســپنې پټلۍ افغانستان له ترکمنستان او بیا یې د منځنۍ آسیا له نورو هېوادونو سره نښلوي. په دې پروژه کې د ترکمنستان له لوري پانګونه شوې او پراختیایي چارې یې دوام لري. د افغانســتان او ترکمنســتان ترمنځ د ریلي ټرانسپورټي شبکې د همغږي کولو، د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا، د انتقالاتو د زیاتوالي او ســوداګرو ته د آســانتیاوو برابرولو په موخه د تورغونډۍ بندر د پراختیا او پانګونې اړوند یــوه موافقتنامه او د همدې موافقتنامې په اســاس یو ترون مخکې لاسلیک شــوی دی. د دغه ترون له مخې په پنځه میلیون ډالرو پانګونــې سره د تورغونډۍ بنــدر زیربناوو ته پراختیا ورکول کیږي. په دې کې د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ په مسیر کې د تخلیې او بارګیرۍ لپاره د نویو ګودامونو او تاسیســاتو ډیزاین، جوړول او فعالول شامل دي. په دې پروژه کې د ترکمنستان هیواد له لوري پانګونه کیږي، چې د افغانســتان په خــاوره کې بــه د افغانســتان د قوانینو او د ترکمنســتان په خاوره کې به د ترکمنستان د قوانینو له مخې عملي کېږي او تر بشــپړېدو او ګټې اخیستنې ته تر سپارل کېدو وروسته به د پروژې مجموعي قیمت د همدې تاسیساتو له عوایدو څخه ترکمنستاني شرکت ته ورکول کیږي. له دغو پروژو موخه د افغانســتان ریلي بندرونه معیــاري کول او د ســوداګرو د غوښتنو مطابق پراختیا ورکول دي، ترڅو له دې لارې سوداګرو ته بشپړې اسانتیاوې رامنځته، ملي سوداګر راجــذب او ریلي انتقــالات زیات شي. پــه ورته وخت کې قزاقستان هم د ریل پټلۍ په دې مسیر کې پانګونه کړې ده. افغانستان ته د دغه هېواد د لومړي وزیر د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف د وروستي سفر په ترڅ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانســتان د فواید عامــې د وزیر ملا محمد عیســی ثاني او قزاقستان د اســتازي ترمنځ د پانګونې یوه هوکړه لاســلیک شــوه. د دې هوکړې له مخې قزاقستان د تورغونډۍ ـ هــرات د ریل پټلۍ په پروژه کې د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونه پیلوي.

**د هرات ـ خواف ریل پټلۍ:**

د هرات- خواف د اوسپنې پټلۍ پروژه څلور برخې لري، چې له دې جملــې دوې برخې یې په ایران کې دي او دریمه برخه یــې د هرات ولایت تر روزنک تمځای پورې رســیږي، چې رغنیزې چارې یې بشــپړې شوې دي او دا مهال ترې عملاً ګټه اخیستل کېږي. څلورمه برخه یې دوې برخې لري، چې لومړی فاز یې ۴۳ کیلومتره او دویم فاز یې د ۴۷ کیلومتره په اوږدوالي سره د افغانســتان د هرات ولایت صنعتي ښارګوټي ته رســیږي. د یادې پروژې په لومړۍ برخه کې د مسافرو د خوندي او هوسا تګ راتګ په موخه ٦ تمځایونه په پام نیول شوي دي. د افغانســتان او ایران تر منځ دا ټوله پټلۍ ۲۲۵ کیلومتره اوږده ده چې تر اوسه یې له څلورو برخو درې برخې بشپړې شــوې دي. د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ پروژې په بشــپړېدو سره به افغانســتان د اوســپنې پټلۍ له لارې د ګاونډیو، ســیمې او نــړۍ له هېوادونــو سره وصل شي، د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد بیې د کمښت او چټکتیا ترڅنګ به د سیمو ترمنځ واټن رالنډ او د افغانستان تولیدي توکي به د نــړۍ بازارونو تــه لار ومومي. دغه راز د خــواف – هرات د اوسپنې پټلۍ په بشپړېدو سره به د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد بیې ټیټې او د دواړو هېوادونو او سیمې ترمنځ به د سوداګرۍ او ترانزیټ د ودې لامل شي. د یادې پروژې لګښــتونه د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري برابرېــږي، چې په بدل کــې به یې د بامیــان د یکاولنګ ولســوالۍ د جســت او سرب له کان څخه استفاده وشي او چارې به یې د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي.

**کندهار- هرات ریل پټلی:**

د کندهار ـ هرات د اوسپنې پټلۍ د تفصیلي سروې او ډیزاین چارې هم پیل شـــوې دي. دا پټلۍ چـــې ۷۳۷,۵ کیلومتره اوږدوالی لري په پنځو برخو کې په پام کې نیول شوې ده چې د شاوخوا ۲۶۴ میلیونه افغانیو په لګښت یې د تفصیلي سروې او ډیزاین چارې سرته رسیږي. د کندهار-هرات اوسپنې پټلۍ له لارې به افغانستان د اوسپنې پټلۍ له نړیوالې شبکې سره وصـــل او هېواد به د ریل پټلۍ لـــه لارې نړیوالو تجارتي او ټرانزیټي دهلیزونو ته لاره پیدا کړي.

**افغان - ټرانس:**

افغـــان- ټرانس ریل پټلي یوه ســـتراتیژیکه پروژه ده چې د افغانستان له لارې منځنۍ اســـیا له جنوبي آسیا، سیمې او نړۍ له هېوادونو سره نښـــلوي. دغه کرښـــه شـــاوخوا ۶۸۱ کیلومـــتره اوږدوالی لري چې په جوړېدو سره به یې د منځنۍ آسیا هېوادونه وکولی شي د جنوبي اسیا او نړیوالو بازارونو ته خپل سوداګریز او کرنيز توکي و ليږدوي.

د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ د امکان سنجۍ تفاهم نامه د فواید عامې وزارت د وزیر محترم الحاج ملا محمد عیســـی ثـــاني، د پاکســـتان د ریل پټلۍ او ازبیکســـتان هېوادونو د ترانسپورت وزیرانو ترمنځ، د درې واړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په حضور کې لاســـلیک شـــوه. د دغـــې پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان په ســـیمه کې په ترانزیټي څلور لارې بدل ، له دې لارې به افغانستان میلیونونه ډالر عاید تر لاسه او ګڼ شمېر هېوادوالو ته به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي. دغه راز به د منځنۍ آسیا هېوادونه په خاص ډول ازبیکستان له دې لارې د جنوبي اسیا بندرونو په ځانګړې توګه د کراچۍ او ګوادر بندرونو ته لاره پیدا کړي.

د افغان- ټرانس پروژه د افغانستان د اقتصادي لید یوه برخه او د اســـلامي امارت له مهمو اقتصادي برنامو څخه شـــمېرل کېږي، چې موخه یې افغانســـتان پـــه اقتصادي څلور لارې بدلول دي.

**ریل پټلۍ؛ ګټې او فرصتونه:**

ریل پټلۍ د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې له ســـمندر وروســـته دوهمه لاره ده چې ډېر سوداګریز توکي او مالونه پرې لیږدول کیـــږي. د دې کار لوی لامل دا دی چـــې د ریل پټلۍ لاره ارزانه او د لوی حجم او وزن لرونکي توکي پرې ښه انتقالیـــږي. په دې هېوادونو کې روســـیه، چیـــن، امریکا، ســـویس او ګڼ نور هېوادونه راځي. افغانستان د نړۍ د لوی کور د یوه مهم غړي په توګه اړ دی چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په موخه د نړۍ د ریل پټلۍ له شـــبکې سره ونښلي، په دې سره بـــه یې له یوې خوا نړیوالو بازارونو ته یوه خورا ارزانه لاره موندلـــې وي او له بل لوري بـــه په ځمکنیو لارو له اتکا څخه په بشپړ ډول ووځي. د افغانستان اسلامي امارت همدې ارزښت ته په پام سره غواړي په هېواد کې د ننه او له بهلابېلو ګاونډیو هېوادونو سره ریل پټلۍ شبکې ته پراختیا ورکړي. په هېواد کې د ریل پټلۍ د پراختیا او له نړیوالې شـــبکې سره د وصل د هڅو په لړ کې د هرات ـ کندهار د ریل پټلۍ لومړنۍ چارې پیل شوې دي. د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد وایـــي، د کندهار-هرات اوســـپنې پټلۍ له لارې به افغانستان د اوسپنې پټلۍ نړیوالې شبکې سره وصل او هېواد به د ریل پټلۍ له لارې نړیوالو تجارتي او ټرانزیټي دهلیزونو ته لاره پیدا کړي. هغـــه وایي:« د ریل پټلۍ هغه پریکون، چې افغانستان د ایران، ازبیکستان، ترکمنستان، تاجکستان او پاکســـتان هیوادونو ترمنځ رامنځ ته کړی و؛ ان شـــاء اللّٰه اوس به بیرته دا پریکون له منځه ځي او د جنوبي او مرکزي آســـیا هیوادونه به د ریل پټلۍ لـــه لارې یو له بل سره وصل کیږي.» د ریل پټلۍ په وصلېدو سره به د افغانستان د توکو او انتقالاتو لګښـــتونه راکم ، انتقالاتي ظرفیت به لوړ ، ملي پانګوالو ته به لازمې اســـانتیاوې برابرې او په ټوله کې به د سیمې او نړۍ سره د سالم رقابت فرصتونه هم زیات شي. د کندهار-هرات مســـیر په واســـطه به د هیواد پنځه ولایتونه هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار او افغانستان به د درې هیوادونو ایران، ترکمنستان او پاکستان سره د ریل پټلۍ له لارې ونښلول شي. د دې مسیر په بشپړیدو سره به افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا له هیوادونو سره د ریل پټلۍ له لارې وصل او دغه راز به د خواف-هرات له لارې د ایران، د ایران لـــه لارې د ترکیې او د ترکیې له لارې د اروپا له ســـوداګریز دهلیز سره وصل شي. افغانســـتان کې د ریل پټلۍ له شته شبکې څخه اوس هم اعظمي استفاده کیږي. د افغانستان د ریل پټلۍ له لارې د روان کال په تېرو شـــپږو میاشـــتو کې ۲۱۸۱۵۴۴ متریک ټنه انتقالات شـــوي دي. د ریل پټلۍ د مالوماتو له مخې دا کچه د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۱۱ اعشـــاریه ۱۵ ســـلنه لوړه شـــوې ده. د ۱۴۰۴ کال د قوس میاشـــتې له پیلـــه بیا تر پایه د اوســـپنې پټلـــۍ له لارې ( ۶۸۴۱۰۲) متریک ټنه انتقالات شوي دي. د حیرتان بندر له لارې ( ۴۸۹۶۴۲) ټنه، د آقینې بندر له لارې (۵۰۷۵۲) ټنه، د تورغونـــډۍ بندر له لارې (۷۴۸۷۴) ټنه او د خواف –هرات (۶۸۸۳۴) لـــه لارې ټنـــه انتقالات شـــوي، چـــې ټولټال (۶۸۴۱۰۲) ټنـــه نفتي توکي او نور مواد هېـــواد ته وارد او یا صادر شوي دي. د اوسپنې پټلۍ اداري ویلي چې تېر کال د دوی عواید شاوخوا درې میلیارده افغانۍ و چې د ورم کال په پرتله ۲۲ سلنه ډېروالی ښيي.

## د ریل پټلۍ په پراختیا کې پانګونې ته د نړیوالو لېوالتیا

په هېواد کې د اســـلامي امارت پـــه حاکمیت سره سراسري امنیت ټینګښـــت وموند. افغانســـتان کې د پانګونې له پاره مناســـب شرایط برابر او کورنیو او بهرنیو پانګوالو هېواد کې پانګونې ته متې را بډ وهلې. په داسې حال کې چې د هېواد په بېلابېلو بندرونو کې له ګاونډیو هېوادونو سره د ریل پټلیو د مســـیرونو پراختیا دوام لري، روسیې په افغانستان کې د ریل پټلۍ په جوړېدو کې پانګونې ته چمتووالی ښـــودلی دی. د راپورونو له مخې د روســـیې د لومړي وزیر مرستیال الیکسي اورچوک ویلي چې د روســـیې لپاره دا مهمه ده چې د نړۍ د ســـویلي هیوادونو سره د نښـــلولو لپاره ډېرې لارې رامنځته کړي، ځکه دا اقدام به د هیواد په اقتصادي او ســـوداګریزو ګټو مثبت اغیز ولري. هغه ویلي د افغانستان له لارې د ریل پټلۍ تیریدل کولای شي روسیه سویلي هیوادونو ته نږدې او د ســـیمه ییز اتصال لپاره نوې ستراتیژیکي سیمې رامنځ ته کړي. په ورته وخت کې د ایران د ریل پټلۍ رییس جبار علي ذاکري افغانستان ته د وروستي سفر پر مهال ویلي چې ایران لېواله دی چې د هغې ریل پټلۍ په پراختیا کې پانګونه وکړي چې له هرات ولایته تر بلخ او بیا له هغه ځایه د بدخشـــان تر واخانه پورې جوړېږي، په دې سره به ایران د افغانســـتان له لارې له چین سره ونښلي. که پروژه پلې شي، نو د سیمې، بیا په ځانګـــړې ډول د افغانســـتان، ایران او چیـــن ترمنځ به سوداګریزو اړیکو کې ډېر نږدېوالی راولي. بلخوا ازبیکستان او د منځنۍ آسیا نور هېوادونه هم د ریل پټلۍ د دې پراختیا له پاره لېوالتیا لري. پر دې سربېره د پاکستان له پاره هم دا




اباډي
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه


پټلۍ ځکه ارزښت لري چې کولای شي له دې لارې خام مواد خپلو فابریکو ته انتقال او خپل تولیدات نورو هېوادونو ته صادر کړي. په پاکستان کې ډېرې فابریکې فعالې دي چې په بېلابېلو برخو کې فعالیت کوي د بېلګې په ډول په پاکستان کې د سیمنټو فابریکې له تېرو څو کلونو راهیسې خپل د اړتیا وړ سون توکي( د ډبرو سکاره) له سوېلي افریقا او نور مواد له نایجیریا او عربي هېوادونو څخه په لوړه بیه اخلي، که د افغانستان له لارې ریل پټلۍ فعاله شي؛ نو بیا له دې ستونزې ځان خلاصولای او خپل د اړتیا وړ توکي په ارزانه بیه له افغانستان او د منځنۍ آسیا له نورو هېوادونو څخه پیرلی شي. همداسې ازبیکستان هر کال په زرګونو ټنه پنبه تولیدوي او غواړي د افغانستان له لارې یې پاکستان، بنګله دیش، هند او د جنوبي اسیا سوداګریز مارکېټ ته ولیږدوي، تر څو خپل توکي هلته و پلوري او په بدل کې یې توکر او ورته نور توکي په ښه او ارزانه بیه خپل هېواد ته را وارد کړي. همدا راز روسیه غواړي د خپل تجارت او صادراتو لپاره نوې لارې ومومي. د افغانستان له لارې ریلي شبکه کولی شي منځنۍ اسیا سره وصل کړي او د جنوبي اسیا بازارونو ته لاسرسی برابر کړي،په ځانګړي ډول پاکستان، هند او نور هېوادونو ته . دا به د روسیې لپاره د سوداګرۍ او ترانزیټ لګښتونه کم او یو رقابتي مسیر برابر کړي چې د لوېدیځ په بندیزونو پورې تړاو نه لري. روسیه د افغانستان وضعیت له امنیتي پلوه هم مهم ګڼي. د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل، د ګډو اقتصادی پروژو ملاتړ او په نورو برخو کې همکارۍ ته چمتو والی، دا په ډاګه کوي چې مسکو غواړي په سیمه کې یو ثبات‌محوره رول ولوبوي چې په سیمه‌ییزو مسایلو کې هم مرسته وکړي.

## پایله

د افغانستان د جغرافیوي موقعیت او ستراتیژیکې ځانګړتیا له امله د ریل پټلۍ هره پروژه یوازې اقتصادي نه، بلکې سیاسي، امنیتي او ستراتیژیک اهمیت هم لري. که څه هم د افغانستان ډېرو ګاونډیو هېوادونو د افغانستان د ریل پټلۍ له پراختیا سره همکاري ښودلې، خو ځینو ګاونډیو هېوادونو په دې پروژه کې د عملي پانګونې لپاره چمتو والی ښودلی دی. روسیه په افغانستان کې د ریل پټلۍ پروژې ته لېوالتیا لري ځکه غواړي خپلې سوداګریزې او ترانزیتي لارې پراخې کړي؛ په سیمه کې ستراتیژیک نفوذ زیات کړي؛ د نړیوالو اقتصادي شرایطو له امله بدیلې لارې د ځان له پاره ومومي؛ بل هېواد ایران دی چې ویلي یې دي د افغانستان په ریل پټلۍ کې پانګونه کوي او غواړي په افغانستان کې د ریل پټلۍ په برخه کې د څو مهمو اقتصادي، ستراتیژیکو او سیاسي لاملونو له کبله پانګونه کوي. دا هېواد غواړي افغانستان د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د ځان د نښلولو لپاره د ترانزیتي پل په توګه وکاروي. د افغانستان له لارې ایران کولای شي له ترکمنستان، ازبیکستان او تاجکستان سره د ریل له لارې وصل شي. دا کار ایران د سیمې په مهم ترانزیتي مرکز بدلوي. همدا راز دا کار کولای شي د چابهار بندر د افغانستان او منځنۍ اسیا لپاره اصلي بحري لاره او د کراچۍ بدیل شي. د روسیې په شمول یو شمېر هېوادونه د لوېدیځ اقتصادي فشارونو، بندیزونو او نورو اقتصادي محدودیتونو له امله بدیلې سوداګریزې لارې لټوي. د افغانستان له لارې د اوسپنې پټلۍ مسیرونه کولی شي یوه داسې بدیله تجارتي لاره وړاندې کړي چې روسیه او د سیمې هېوادونه یې وکاروي. د ریل پټلۍ جوړول او پراختیا چې افغانستان له نړیوالو بازارونو سره نښلوي په اوسنیو شرایطو کې یو غوره فرصت دی چې د افغانستان اسلامي امارت هم غواړي له دې فرصت څخه په استفادې سره نه یوازې افغانستان د سیمې د وصل په نقطه بدل کړي، بلکې په دې سره هېواد له سوداګریزې انزوا هم د تل له پاره خلاص کړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۶,۶۰ | ؋۶۶,۶۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۹ | ؋۲۲۹ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۴۸ | ؋۰,۴۹ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۷,۶۹ | ؋۷۷,۷۵ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۶ | ؋۰,۸۶ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۳۲ | ؋۷۳۲ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۸۹,۵۴ | ؋۸۹,۶۱ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,۷۶ | ؋۱۷,۷۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۱۳ | ؋۱۸,۱۵ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۵۶ | ؋۹,۵۶ |

